AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش  نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۳/۱۸

# اول وهي بيا سوځوي مې،
## خلاصولای مې شئ؟
## (د فرخندې لومړی تلین)

دا دی بيا نوی کال را روان دی، خو غمونه او دردونه هم پخواني په کور، کلي او ذهن کې را ته ناست دي او هم له هر پسرلي سره او لا هرې شيبې سره نوي را شنه کيږي، را ټوکيږي او را لويږي. نوی کال به لمانځل کيږي، خو د کابل سين پر ديوالونو او د اندرابي واټ د پاسه او د ټولو با احساسه او چيز فهمه خلکو د ذهن په واټونو او ديوالونو باندې، د فرخندې د وينو سره داغونه، پر ما، پر تا، پر عدالت، پر شريعت، پر دولت، پر ملت او پر ... باندې اوس هم خاندي.

د فرخندې د وينو هر داغ ژبه لري او هره ژبه په لوړ غږ باندې د ټولو په آدرس ناري وهي:

ستاسو د وطن د عدالت په تله کې او ستاسو د وطن د شريعت په دايره کې زما د قاتلينو محکمه تر کوم ځای پورې ورسيده؟؟؟

د فرخندې د وژلو په لومړی، دويمه او دريمه ورځ باندې مې د خپل احساس او د زړه خبره يو څو فيسبوکي جملو، دوو شعرونو او يوې مقالې په ترڅ کې څرګند او يو شعر او يوه مقاله مې هماغه وخت خپاره کړل. خپل لومړنی احساس مې د خپلې ټولنې او خلکو د فکري او عملي برخورد په باب په خپله فيسبوک پاڼه کې داسې وليکه:

«د فرخندې د وينو په بيه،

د فرخندې د کباب شوي بدن په بيه،

او د فرخندې د ژوند په قيمت سره د ټولنې چيز فهمه خلک بايد پوه شي چې زموږ د ټولنې فکري سطحه په کومه پوړۍ کې ده.

د فرخندې د وينو هر سور څاڅکی زموږ د ټولنې د انسانيت پر تندي باندې تور داغ دی.»

بيا مې تر دې عنوان لاندې يو شعر او يوه هم مقاله چې سر ليک داسې و:«د فرخندې د وينو سره داغونه، د انسانيت پر لمن تور داغونه» خپاره کړل.

په کوم هيواد او ځای کې چې فرخنده وسوځول شوه او کومو خلکو چې فرخنده وسوځوله، د هغوی له نظره اسرايليان کافر، يهود او مباح الدم دي، خو چيرې کوم اسراييلی، يو فلسطيني ځوان ته د خپلمنځي تضادونو په حساب اور اچولی و، او همدي يهود، همدي کافر او همدې مباح الدم په خپله محکمه کې د اسريیلي اور اچونکي له پاره د عمري بند سزا منظور کړه، اما د فرخندې مسلمان سوځونکي ته د اسلامي محکمې له خوا تر اوسه چا هيڅ هم نه دي ويلي او سرې سترګې ګرځي.

موږ فرهنګيان نه جنګيالي لرو او نه هم وژونکي توپکوال، د فرهنګيانو لښکر او وسله فکر دی، قلم دی، غږ دی، موزيک دی رنګ دی او ...

يوه شاعر(سميع حامد) د فرخندې او رخشانې له پاره خپل غږ اوچت کړ او يوه سندر غاړي له موزيک سره هغه زمزمه کړ، په دې ډول:

«در خيابان ناله فرخنده ها

در بيا بان زجه رخشانه ها ...

داد از اين نا مرد ها

فرياد از اين نا مرد ها ...»

په يوه لنډ آزاد شعر کې مې د فرخندې وروستی غوښتنه او وروستی غږ چيرته لرې د نورو کلو د خلکو په آدرس ورليږلی و. د دې کلي(دمځکې ګره) خلکو خو يې غږ باندې غوږ و نه ګراوه، د نورو لرو کلو په آدرس مې غږ ور مسيږ کړ، نه پوهيږم چې هلته به هم چا اوريدلی وي که نه؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اوس هم زه د خپل ذهن په پراخه بیدیا کي د فرخندي په وینو سور بدن او کړم، کړم اندامونه ګورم چي د خپلو ضاربانو پر جهالت پوري په کړس کړس خاندي، خو د دې خندا د څپو په حاشیه کي مي یې هغه مظلومانه چیغي مي هم په تت ډول تر غوږو کیږي چي د مرګ په شیبو کي یې هغه چا پسي غږ کاوه، چي هیڅ نه و. فرخندي لکه اوبو اخیستی چي څګ ته هم د خلاصون په تمه لاس اچوي، د بچیدو په هیله د چیغو په لړ کي له اشرف المخلوقاتو نه او د خدایتعالی د پوري کلي له مخلوقاتو نه د مرستي غوښتنه کوله، خو ...
دا د فرخندې د ژوند د وروستی شیبي، د وروستی سلګی او د وروستی غوښتني یو لنډ هنري انځور دی، چي ما د خپل ذهن په ګالري کي د دې له کبابیدو نه یوه ورځ وروسته ایستلی و:

عرض:

آهای!!!
د لوړو کلو خلکو،
غږ مي در رسي که نه؟
دغه دی چغي وهم:
وژني مې،
وهي مې،
سوځوي مې،
خلاصولای مي شئ؟؟؟

۲۰۱۵/۰۳/۲۰
هیدرسلیف، ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ